مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۸ / ۱۹

# د شاه امان الله هڅه
# د خپلواکۍ حقوقي بنسټ د رامنځته کولو په موخه

**د خپلواکۍ د ۱۰۷مې کليزې په مناسبت**

د شاه امان الله د سلطنت په دوره د خپلواکۍ د ساتنې حقوقي بنسټ اساسي قانون و. خپلواک افغانستان هغه مهال د اساسي قانون د جوړولو اقدام وکړ چې لومړی نړیوال جګړه پای ته رسېدلې وه. عثماني امپراتوري له منځه تللې وه او د منځني ختيځ ځينې هېوادونه د جګړې د فاتحو هېوادونو ترمنځ د تحت‌الحمايه نظام په چوکاټ کې وېشل شوي وو.

د شاه امان الله له سترو کارنامو څخه یوه دا وه چې د اساسي قانون پر بنسټ يې د یوه حقوقي نظام د رامنځته کولو زمينه برابره کړه. اساسي قانون بايد تحت‌الحمايه نظام ته د پای ټکی کېښودي او خپلواک افغانستان نړۍ ته ور وپېژني.

افغانستان په ۱۹۲۲م کال کې خپل لومړی اساسي قانون په داسې شرايطو کې جوړ کړ چې په سيمه کې يوازې يو محدود شمېر اسلامي هېوادونه اساسي قوانين درلودل. د هغو هېوادونو له ډلې چې شاهي نظام يې درلود، عثماني ترکيه او ايران له افغانستان څخه مخکې ليکلي اساسي قوانين لرل.

د عثماني سلطنت لومړی اساسي قانون د ۱۸۷۶م کال په مارچ کې جوړ شو. د ايران لومړی اساسي قانون د مظفرالدين شاه په دوره کې د ۱۹۰۶م کال په ډسمبر کې، هغه مهال چې ايران د بريتانيا تر نفوذ لاندې و، د فرانسې او بلجيم له حقوقي نظامونو څخه په الهام تدوين شو.

د شلمې پېړۍ په پيل کې، د ملت‌پالنې او عدالت‌غوښتنې د کمزورۍ خو د ودې په حال کې د خوځښتونو د قانع کولو لپاره، ټولو اسلامي هېوادونو هڅه کوله چې د ليبرالې ديموکراسۍ ارزښتونه او د مشروطيت اصول په خپلو اساسي قوانينو کې ځای پر ځای کړي.

خو له دې امله چې د نظام جوړونې په برخه کې له لويديځ څخه د مدرنيته تقليد د ټولنې له واقعيتونو څخه ډېر واټن درلود، واک د اساسي قوانينو په متن کې هم د دولت د جوړښت د هرم په سر کې د پاچاهانو په لاس متمرکز پاتې شو. اساسي قوانين، چې يوازې يې د مشروطه نظام بڼه درلوده، د پاچاهانو د مطلق واک د توجيه کولو پر وسيله بدل شوي وو.

اعليحضرت امان الله هغه مهال پاچا شو چې افغانستان نږدې دوه پېړۍ د مطلق‌العنانه او له اساسي قانون او مشروطيت سره نابلده پاچاهانو تر واک لاندې تېرې کړې وې. د تخت د احتمالي مدعيانو موجوديت او د «تکفير» له ځواکمنې وسيلې سره د کورنيو او بهرنيو دښمنانو له خوا د پټې فتنې موجود خطر ايجابوله چې لومړی اساسي قانون شاه امان الله ته په سياسي نظام کې محوري رول ورکړي.

د افغانستان لومړي اساسي قانون د «منور استبداد» نظريه، چې په وروسته پاتې هېوادونو کې دود شوې وه، په رسميت وپېژندله. «منور استبداد» وروسته د يوه عصري دولت د بنسټونو د پياوړتيا لپاره، چې په هغه کې قانون حکومت وکړي، پر يوه آسيب پذير بنسټ بدل شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د افغانستان په لومړي اساسي قانون کې یې د سلطنت د ځای د تثبیتولو په برخه کې  لاندی کورني او بهرني عوامل رول درلود :**

**کورنی عامل :**

د شلمي پېړی په پیل کې د استعمار او استبداد پر ضد فکري خوځښتونو د افغانستان، ترکیې، ایران، هند او مصر د روڼاندو ترمنځ پیاوړې فکري اړیکه رامنځته کړې وه. سیاسي فعالانو، په ځانګړې توګه د «سراج‌الاخبار»، «امان افغان»، «حبل‌المتین» او «صور اسرافیل» په ګډون د ګڼو خپرونو له لارې، له یو بل سره خپل نظرونه شریکول.

په افغانستان کې له پخوا څخه سیاسي ګوندونه او ډلې د خپرونو پر محور جوړې شوې وې. د «انجمن سراج‌الاخبار» اداره د نوو سیاسي ارزښتونو د خپرولو سرچینه او د مشروطه‌غوښتونکي سیاسي جریان د لومړني جوړښت د نطفې په توګه ګڼل کېدای شي. سراج‌الاخبار په حقیقت کې د لومړۍ او دویمې مشروطیت لپاره د الهام سرچینه وه. له همدې امله امیر حبیب الله د سلطنت پر ضد د دسیسې له کشف وروسته، سراج‌الاخبار د دوو کلونو لپاره بند کړ او د لومړۍ مشروطیت غړي یې زندان ته واچول.

د نظام ضد سیاسي فکر په وده کې د لومړۍ مشروطیت رول ډېر پیاوړی نه و. خو له دې سره سره یې وتوانېدل چې د سلطنت واکمني تر پوښتنې لاندې راولي، د چوپتیا طلسم مات کړي او د دویمې مشروطیت لپاره لاره هواره کړي.

د شاه امان الله له راڅرګندېدو سره د مشروطه‌غوښتنې دویم پړاو پیل شو. د مشروطیت لوېدلی بیرغ د شاه امان الله او محمود طرزي ( چې د دربار اصلاح‌غوښتونکی، لیکوال، ژورنالیست، شاعر او د بهرنیو چارو وزیر و) له خوا بېرته پورته شو.

په داسې حال کې چې په لومړۍ مشروطیت کې د دیني مدرسو د فارغانو ونډه څرګنده وه، په دویمه مشروطیت کې د مکتب لوستو کسانو او د عصري معارف روزل شوو کسانو نفوذ زیات شو.

د «امان افغان» جریده، چې د سراج‌الاخبار ځایناستې وه، د عبدالهادي داوي په مدیریت له ۱۹۱۹ څخه تر ۱۹۲۸م پورې د ژوند په بېلابېلو سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې د تجدد (مدرنیته) د ارزښتونو په خپرولو کې مهم رول ولوباوه او د دویمې مشروطیت د پلویانو لپاره د الهام سرچینه او د تقلید مرجع وګرځېده.

ډېر هغه مفاهیم چې د دویمې مشروطیت د پلویانو د خوځښت بنسټ یې جوړاوه او وروسته یې د ۱۹۲۲م کال په اساسي قانون کې د نظام په دننه کې د پاچا ځای ټاکه، د «امان افغان» له لارې خپرېدل. محمود طرزي د تورکي اثارو د ژباړې له لارې د مشروطیت او دیموکراسۍ پر لور د اروپا وروستي پرمختګونه خپرول.

## بهرنی عامل :

د افغانستان د لومړي اساسي قانون جوړول د عثماني امپراتورۍ له سقوط او په ترکیه کې د جمهوریت د بنسټګر اتاترک له خوا د واک له ترلاسه کولو سره هممهاله وو. په همدې وخت کې عرب او ترک اصلاح‌غوښتونکي د «ځوانو ترکانو» په شاوخوا کې راټول شوي وو؛ هغو ځوانانو چې په عثماني امپراتورۍ کې یې د مشروطیت او د حقوقو د برابرۍ ملاتړ کاوه.

محمود طرزي په ترکیه کې د «ځوانو ترکانو» د مبارزو پر مهال په تبعید کې اوسېده او د هغوی له اصلاح‌غوښتونکو تمایلاتو څخه یې ژور اغېز واخیست. طرزي وروسته افغانستان ته له راستنېدو سره د سیاسي نظام د جوړښت په برخه کې ډېر عصري مفاهیم له ځان سره هېواد ته راوړل او د «امان افغان» له لارې یې خپاره کړل.

د افغانستان د لومړي اساسي قانون د مؤسسانو د مجلس د غړو په اړه کره معلومات په لاس کې نشته. ډېر احتمال شته چې محمود طرزي د دغه مجلس له غړو څخه یو و. هغه ډېر عصري اصول د هېواد په اساسي قانون کې ځای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر ځای کړل. له دې امله چې د اماني دورې په ترڅ کې په جوړو شوو نظامنامو کې ترکان له افغانانو سره همکاري کوله، په ډېر احتمال سره ترکان د افغانستان د اساسي قانون په مسوده جوړولو کې هم ونډه لرله.

د عثماني امپراتورۍ له سقوط سره هم مهاله، د سید جمال‌الدین افغاني (۱۸۳۹ ـ ۱۸۹۷)، عبدالرحمن کواکبي (۱۸۴۹ ـ ۱۹۰۲) او محمد عبده (۱۹۰۵ ـ ۱۹۴۹) تعلیماتو د پاچاهانو د مطلقیت پر وړاندې د مسلمانانو د مدني حقوقو په اړه د پوهاوي په رامنځته کولو کې مهم رول درلود.

د عثماني خلافت له سقوط وروسته، د اسلامي نړۍ د اصلاح‌غوښتونکو خوځښتونو د نفوذ ترڅنګ، لویدیځو هېوادونو هم په عربي منځني ختیځ کې د خپلو تحت‌الحمایه نظامونو له لارې د سیاسي نظامونو او اساسي قوانینو په بڼه ورکولو کې مهم رول ولوباوه.

د افغانستان په لومړي اساسي قانون کې د ترکیې او ایران د اساسي قوانینو له احکامو سره ورته والی لیدل کېږي. د ایران اساسي قانون د بلجیم له اساسي قانون څخه په الهام تدوین شوی و. د دې احتمال ډېر دی چې د سلطنت د موقف اړوند احکام د ترکیې د شاهي او ایران د پاچاهي نظامونو له اساسي قوانینو څخه د افغانستان اساسي قانون ته انتقال شوي وي.

## پایله :

۱۰۷کاله مخکې، په داسې هېواد کې چې د نولسمې پېړۍ له کورنیو جګړو او استعماري سلطې څخه تېر شوی و، د یوه حقوقي نظام د رامنځته کولو لپاره د شاه امان الله هڅه یوه قهرمانانه اقدام ګڼل کېږي.

له بده مرغه، د شاه امان الله له سلطنت وروسته بهرنیو یرغلونو، کورنیو جګړو او د واک د ترلاسه کولو لپاره د زور کارولو، افغانستان له دې فرصت څخه بې‌برخې کړ چې داسې یو حقوقي نظام جوړ کړي چې په هغه کې قانون لومړی او وروستی حرف ولري.

نن خبره دې ځای ته ورسېده چې طالبان، چې د جګړې، ناامنۍ، بې‌نظمۍ او د قدرت د ترلاسه کولو لپاره د «کلاشینکوف کلتور» له چاپېریال څخه راولاړ شوي، ځانونه د اماني دورې د قانون‌واکمنۍ ېېرته منلو ته اړ نه ګڼي. هغوی په ډېرې بې‌پروایۍ سره په داخل او بهر کې د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت د جوړولو اړوند غږونو ته له پامه غورزوي.

« پای»



آرشیف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ